# د پرنس ویلیم کاونټۍ عامه ښوونځیو د نړیوال بکلوریا (IB) پروګرام د ارزونې پالیسی

## د پرنس ویلیم کاونټۍ عامه ښوونځیو ویژن

هر زده کوونکی به د اړینې پوهې، مهارتونو او د ذهنی عادتونو سره په خپل وخت سره فارغ شي کوم چی د هغوي او د هغوي د ټولنې د خلانده راتلوونکې رامینځته کولو لپاره اړین دي.

## فلسفه

د پرنس ویلیم کاونټي عامه ښوونځي (PWCS) ژمن دي چی خپل زده کوونکي ۲۱ پیړی لپاره چمتو کړي او د دوی سره مرسته کوي چی د ژوند په اوږدو کې زده کړې تر سره کوونکی جوړ شي. زموږ موخه دا ده چي ښوونکي او کارکوونکي د ټیم په شکل سره کار وکړي تر څو د ارزونو او نمرو ورکولو مناسبه تګلاره یقیني کړي، کوم چې د ویرجینیا ایالت، د پرنس ویلیم کاونټي ښوونځی، او د نړیوال بکلوریا (IB) اداری پالیسی منعکس کوي.

ارزونه د زده کړې د بهیر یوه اړینه برخه ده او د زده‌کوونکو د وړتیا او چمتووالي په روښانه کولو او په اړه یی په پوهیدو کی اساسي رول لوبوي. ډاټا زموږ د تدریسی تګلارو په اړه معلومات ورکولو او شکل ورکولو کې مهم رول لوبوي. ډاټا دا په ډاګه کوي چې زده کوونکي د زده کړې په پروسه کې په مختلفو مرحلو کې په څه پوهیږي، څه کولی شي او څرنګ احساس لري.

## موخه

د ارزونې ښستیزه موخه دا ده چی د زده کوونکو د زده کړو څخه ملاتړ وکړي او پراخه یی کړي. د ښوونی او زده کړې دواړو په اړه په لاړښوونی کولو سره، دا د زده کوونکو د مهارتونو او پوهې پیژندلو لپاره یوه وسیله ده. کله چې په مؤثره توګه وکارول شي، ارزونه د زده کړی په بهیر کی او په پای کی معنی لرونکي نظرونه وړاندې کوي - کوم چې د زده کوونکو سره په ودې موندلو او لیوالتیا رامینځته کولو کې مرسته کوي.

ارزونه زده کوونکی، ښوونکی او والدین باخبره ساتی، او د پرمختګ څارلو او د انتقادي فکر او د ځان ارزونې مهارتونه رامینځته کولو په برخه کې د زده کوونکو فعاله ښکیلتیا هڅوي. د نړیوال بکلوریا (IB) پروګرام په ښوونځیو کې، د ارزونې کړنلاری د څیړنیزی ستراتیژی منعکس کوي کوم چې د زده کوونکو لاسته راوړنې او اوږد مهاله بریا هڅوي.

## د PWCS د ارزونې مقررات

د PWCS مقرره 1-661, "ارزونه او د نمرې ورکولو/ګریډونو کړنلاری - ابتدایه ښوونځیو لپاره"

د PWCS مقرره 2-661, "ارزونه او د نمری ورکولو/ګریډونو کړنلاری - منځنی ښوونځیو لپاره"

د PWCS مقرره 3-661, "ارزونه او د نمری ورکولو/ګریډونو کړنلاری - عالي ښوونځیو لپاره"

مقرره 1-663: کورنی دنده - د ورکتون تر 12 ټولګی

Formatted: Left-to-right

## د ارزونې کړنلارې

### د ټولګی ارزوني

**له درس وړاندی ارزونی:** د زده کوونکو مخکنی پوهه معلوموي، علاقه او انګیزه رامینځته کوی، او له ښوونکو سره په اغیزمنی او ښکیلتیا لرونکی لارښوونی پلان کولو کی مرسته کوي. د زده کوونکو سره د هغوي د پخوانی پوهې په راټولولو کې د مرسته کولو په موخه ښوونکي د مختلف ډول شفاعی او لیکلي تګلارو کارولو څخه ګټه پورته کوي.

**د درس په بهیر کی ارزونه:** دا یوه غیر رسمي ارزونه ده چې د ښوونکي لخوا د زده کړې په بهیر کې ترسره کیږي ترڅو د زده کوونکو د لاسته راوړنو د ښه کولو لپاره د ښوونی او زده کړې فعالیتونه بدل کړي. د درس په وخت ارزونې د یو مضمون د مطالعې په اوږدو کې ترسره کیږي.

**د درس په پایٔ کی ارزونه:** د پای ته رسېدونکې فعالیت له لارې د زده کونکي د لاسته راوړنو ارزونه چی عموما د یوې برخې یا د مطالعې په پایٔ کې ترسره کیږي. د زده کړی د پایٔ په وخت کی د ارزونې موخه دا ده چې د معیار سره د پرتله کولو لا لاری د یو مضمون پایٔ ته رسیدو په وخت کی د زده کوونکی زده کړي وو ارزول شي.

**د ځان ارزونې او انعکاس کونه** په منظمه توګه کارول کیږي ترڅو زده کوونکی وکولی شي د خپلو زده کړو په اړه فکر وکړي او خپلی زده کړی و ارزوي. د زده کوونکي پروفایل ځانګړتیاوی رامینځته کولو او په اړه یی د پوهاوي ارزولو لپاره زده کوونکي بیلابیلی لارې چاری کاروي.

### د ارزونې تر سره کولو وسائل او کړنلارې

د ارزونې ستراتیژئ او وسایل باید توپیر ولری او پکی د یو درس څخه مخکی ارزونه تر سره کول او وروسته ارزونه تر سره کول او د مضمون په بهیر کی ارزونه تر سره کول او په پایٔ کی ارزونه تر سره کول شامل کیدی شي. زده کوونکی باید د ارزونې په ځینو فعالیتونو او د وسائلو په پراختیا کې ښکیل وی (د بیلګې په توګه، روبریک). کله چې زده کوونکی د ارزونې د پراختیا په فعالیتونو کې ګډون نه کوي، هغوي باید د ارزونې د معیارونو څخه خبر کړل شی. ارزونه د زده کوونکی پوهه معلومي او راتلونکی زده کړی پلان کوي.

**روبریک:** د ټولو ښوونکو لخوا روبریک کارول کیږی ترڅو د ټاکل شوی معیار سره په مطابقت د زده کوونکو فعالیت وو ارزوي. ښوونکي کولی شي د زده کوونکو د نظرونو سره په مطابقت روبریکونه رامینځته کړي او د زده کوونکو سره د خبری کولو لپاره آسانه ژبه وکاروي ترڅو دا ډاډ ترلاسه شي چې ټول زده کوونکي به د روبریک ترټولو لوړ توقعات پوره کولو فرصت ولري. والدین او زده کوونکی په زده کړو کی د ښکیل کیدو وړاندی په بشپړه توګه په توقعاتو پوهیږی.

Formatted: Font: Bold, Complex Script Font: Bold

Formatted: Font: Not Bold, Complex Script Font: Not Bold

**چیک لیستونه** د هر ډول معلوماتو، ځانګړتیاوو، صفاتو، عناصرو یا ډیټا پیژندلو لپاره کارول کیږي د کوم چې باید په یو ځانګړي پروژه یا دنده کې استازیتوب وشي. ښوونکی دا ډاډ رامینځته کوي چی والدین او زده کوونکي په زده کړو کی د ښکیل کیدو وړاندی په بشپړه توګه په توقعاتو باندی پوهیږی.

Formatted: Font: Bold, Complex Script Font: Bold

**لنډ ریکارډ** هغه لنډ لیکلی یاداښتونه دي چی د ښوونکو او د ښوونځي نورو پرسونل لخوا ساتل کیږي، چی د اړتیا په وخت کی د زده کوونکو مشاهدات مستند کولو لپاره کارول کیږي.

**مشاهدات** په منظمه توګه تر سره کیږي تر څو د موخو په لور د زده کوونکو پرمختګ و ارزول شي. دغه مشاهدات باید د ښوونکو، اداره کوونکو یا د ښوونځی د نورو پرسونل لخوا ترسره شی. د زده کوونکو د مضمون په اړه د پوهې تسلط معلومولو لپاره د مشاهدات تر سره کولو سربیره، ښوونکي دا هم مشاهده کوي کله چې د زده کوونکي د

Formatted: Left-to-right

ځانګړتیاوو پروفایل رامینځته کولو لپاره زده کوونکی معلومات راټولوي. د مشاهداتو پایلې د لیکل شویو یادښتونو/راپورونو، د اعلانونو روښانولو، اعلاناتي تختو او غونډو له لارې ابلاغ کیږي.

**د فعالیت تر سره کولو ارزوني** د دې لپاره کارول کیږی ترڅو زده کوونکو ته دا موقع ورکړی چې د ګڼو ځیرکتیاو له لارې زده کړه په ډاګه کړي. کله چې زده کوونکی ارزونې تر سره کوي، هغوي د لوړې درجې فکر کولو مهارتونه رامینځته کوي او پراخه کوي، ټولنیز مهارتونه رامینځته او تر سره کوي، او د محتوا په اړه پوهه ترلاسه کوی او پیاوړی کوی.

**د انتخاب شوي ځواب ارزونه** یوه داسې تګلاره ده چې د دې معلومولو لپاره کارول کیږي چې آیا زده کوونکي کولی شي د پوښتنې یا ازموینې پوښتنې ته سم ځواب غوره کړي او که څرنګ.

**آزادی ارزوني** زده کوونکو ته دا توان ورکوي چې یو محرک ته اصلي ځوابونه جوړ کړي. کله چې زده کوونکي په آزادو ارزونو باندی کار کوي، هغوي دا فرصت لري چې د پوهی په ډاګه کولو لپاره د لوړې کچې فکر کولو مهارتونه، د لیکلو مهارتونه، د انځور کولو مهارتونه، یا د ټیکنالوژی مهارتونه وکاروي. آزادی ارزونی زده کړه پراخه کوي.

## د PWCS او د آیالت لخوا ارزونې

د IB شرائط ارزونو سربیره، د PWCS د وړکتون څخه تر 12 پوری په سیستم کې په عمومی توګه ځینې لازمي ارزونې شتون لري چې تطبیق کیږي. په دغو کې بنچمارکونه او همدارنګه د کورس په پایځ کی د زده کړې ازموینو معیارونه شامل دي، کوم چې د عالي لېسې په کچه هغه تګلاره ده چې له لاری یی زده کوونکي د فراغت لپاره کریډیټ ترلاسه کوي. دا له مخکی څخه ټاکلی شوې مودی لري، او ځینې د PWCS ارزونې د زده کوونکي د PWCS ګریډ برخه دي.

## د IB اړینی ارزونې

**داخلی ارزونې**: د IB پروګرام د لومړنیو کلونو په پروګرام (PYP) کې په داخلي ډول درجه بندی شوي ارزونې لري، کوم چې د نندارتون پروژه بشپړوي؛ د منځنیو کلونو پروګرام (MYP)، کوم چې شخصي پروژه بشپړوي؛ او د ډیپلوم پروګرام (DP)، چې د موضوع اړوند ځانګړې داخلي ارزونې (IA) بشپړوي.

د عالي ښوونځی په کچه دا د IB په پلې کولو کې د اعتبار ډاډ ترلاسه کولو لپاره د اعتدال لپاره سپارل کیږي. دا په کورسونو کې مدغم شوي او په روښانه مهال ویش ویشل شوي ترڅو د سپارلو دمخه نظر ورکولو ته اجازه ورکړي.

**بهرنی ارزونې**: د ډیپلوم پروګرام (DP) په کچه زده کوونکي پراخه شوی یا غځول شوي مقالې وړاندې کوي، او د IB ازموینې ورکوي کوم ته چې نمری ورکول کیږي او په اړه یی بیرته IB ته راپور ورکول کیږي. دا ارزونې د زده کوونکي د PWCS ګریډونو کې **نه** شمیرل کیږي. دا ارزونې د IB د وروستی نیټې پابند هم دي او نشي کولی په بشپړه توګه د ډیویژن د ناوخته کار پالیسي مراعات کړي.

## ګریډونه او نمرې ورکول

په دریم ټولګی کی د پیل کیدو سره، ښوونکی د ګریډونو او نمرو ورکولو لپاره د PWCS د ګریډ ورکولو سیستم کاروي. له دریم ټولګی څخه وړاندی ټولګیو کی، زده کوونکو ته د هغوي معیارونو سره په تړاو د S ,S+, او -S ګریډونه ورکول کیږی. د درس ویلو په اوږدو کی ارزونې د دې لپاره تر سره کیږي چې دا ډاډ ترلاسه شي چې زده کوونکی د زده کړې لپاره د ټاکل شوی موخی په لور سم پرمختګ کوی. د زده کړی په پایځ کی ارزونی د زده کړې په موخه باندې د زده کوونکی تسلط منعکس کوی.

Formatted: Left-to-right

د IBMYP او IBDP پروګرامونه د ارزونو لپاره د معیار پر بنسټ نمرې ورکولو تګلارې ته وده ورکوي، چې دا طریقه په همدې کورسونو کې پلي کیږي. د PWCS د نمرې ورکولو کتاب لپاره د MYP پروګرام د نمرو اړولو یوه ټاکل شوې کرنلاره شتون لري. له ښوونکو څخه تمه کیږي چې د دوامداره پلي شوي معیارونو لپاره د زده کړې ګډ ټیم (CLTs) په چوکاټ کې د ګریډ ورکولو تګلاره عملي کړي.

## بیاځلې ارزونه او اصلاح کونه

ټول زده کوونکي د زده کړې تر سره کولو او مهارت ښکاره کولو لپاره د فرصت لرلو مستحق دي ــــ نه یوازې هغه زده کوونکي چې د دودیزو تګلارو دننه بریالي کیږي. د دغې کار څخه د ملاتړ لپاره، زده کوونکي باید د بیاځلې ارزونې، د فیډبیک پر اساس د بیاکتنې، یا د بدیلو بڼو له لارې د ودې ښکاره کولو لپاره ګڼ فرصتونه ولري. د درجه بندۍ دا طریقه وروستي زده کړي ګوري ترڅو وروستۍ ګریډونه مشخص کړي. دا یوه غوره لار ده ترڅو دا وښودل شي چې زده کړه څرنګ تر سره کیږي او زده کوونکي د ښوونځي وروسته ریښتیني نړۍ ته څرنګ چمتو کوي. بیاځلې ارزونه نامحدود نه ده. د دې موخه دا ده چې زده کوونکی د خپلو تیروتنو څخه زده کړې او ښوالی ومومي. لکه څرنګ چې Ebert په O'Connor کې دا ډول ذکر کړي، "بیاځلې ارزونه تر سره کول یو فرصت دی ، او زده کوونکی پکې مسؤولیت اخیستل زده کوی."

هغه زده کوونکي چې محدوده پوهه لري، موخه بیزه ملاتړ به ترلاسه کړي. ښوونکي کولی شي دا پریکړه وکړي چې زده کوونکي کله کولی شي بیاځلې آزموینه ترسره کړي. ټول زده کوونکی د یو ډول سرعت سره زده کړه نه تر سره کوي - زده کوونکي له مختلفو ننګونو سره مخ کیږي لکه (ټولنیز-احساساتي، اکاډمیکی، د دندی زیاتوالی) کوم چې په فعالیت باندی اغیزی کوي. که چیرته یو زده کوونکی د بیا زده کړې او ښه کیدو په لټه کې وي، دا زمونږ اخلاقي دنده ده چې دا فرصت ورته برابر کړو.

که چیرته یو ښوونکی د زده کوونکي د پوهی ورتیا لرلو په اړه شواهد ولري مګر زده کوونکی په ارزونه کې ښه فعالیت نه تر سره کوي، ښوونکي باید د زده کوونکي د فعالیت سره په مطابقت د بیا ځلی ارزول کیدو لپاره په فرصت وړاندې کولو کی همکاري وکړي. ډیری وختونه، بیاځلی ازموینې د "کافی اندازه هڅی" کولو سره راځي - زده کوونکي باید کوښښ یا پرمختګ ښکاره کړي، لکه د کورنی دندې بشپړول یا په کاري غونډې کې ګډون کول. بیاځلی ارزونه عموما د اصلی ارزونې څخه مختلفه بڼه لري، د اصلي ارزونی بیاځلی تکرار نه وي.

## ناوخته سپارل شوئ او نه بشپړ شوي کورنۍ دندی

د تدریس یا ښوونی اصلی موخه زده کړه ده. ښه زده کړه د ښوونی د مختلفو طریقو له لارې ترسره کیږی. له زده کونکو څخه تمه کیږي چې د محتوا او مفهومي پوهې د پراختیا او په اکادمیک لاسته راوړنو کې د ښه فعالیت لپاره خپل ټاکل شوي کارونه بشپړ کړي. ټول زده کوونکي په یو ډول سرعت سره نه زده کوي؛ له همدې امله، جزاګانې د لاسته راوړنو ریکارډ تحریفوي، کولی شي د زده کوونکو انګیزې ته زیان ورسوي، او د ډیری زده کوونکو چلند بدلولو لپاره نتیجه نه ورکوي.

دا چې د تدریس موخه زده کړه ده، نو دا خورا غوره ده چې د ملاتړ یو داسی سیستمونه جوړ کړئ چې د ناوخته کار سپارلو ستونزه ټیټه کړي یا له منځه یوسي.

ښوونکي به د زده کوونکو د وخت په اړه ریکارډونه وساتي او د راپور کارت د کاري عادتونو (هڅې) برخه کې به د دغی ډول چلند په اړه راپور ورکړي.

Formatted: Left-to-right

د ضاحت لپاره، "مقرره نیټه" په دی معنی ده کله چي يو څيز په بنستیزه توګه د ارزوني لپاره ښوونکی ته سپارل کيږی. "وروستی نیټه" د یو څيز بشپړیدو لپاره د قطعي او وروستی نیټی په معنی ده.

PWCS د کورنی دندی ناوخته سپارلو لپاره د نمرو کمولو ته اجازه نه ورکوي. د IB پروګرام داخلي او بهرنی ارزونی جذی وروستی نیټی لري چی پخپله د د بکلوریا نړیواله اداره ازموینو اداری لخوا تاکل شوي، د بدلیدو وړ نه دي او د عمومی تولګیو ارزونو په څیر انعطاف منونکی نه دي.

### ثبتول او راپور ورکول

د PWCS ټول ښوونکی اړ دی چی یو آنلاین ګريډ بوک یا د درجي ورکولو کتاب وساتي چي باید هره اونی تازه کيږي. ښوونکي به د ټاکل شوي زده کړي موخی یا معیار سره دنده لیبل کړي، او په سمه توګه به د معلوماتي، جوړښتي (د زده کړی پر مهال ارزونه ) او تولیز (د زده کړی په پایٔ کی ارزونه) ترمینځ دندي طبقه بندي کړي.

کله چي د MYP ارزوني ثبت کيږي، د ښوونکو لپاره یو نوټیشن فیچر شتون لري ترڅو د PWCS درجي تبادلي سربیره د ارزوني لپاره د MYP روبریک نمرو راپور ورکړي.

ښوونکي هره ربع یا دریو میاشتو کي د چلند او کاري عادتونو په اړه هم راپور ورکوي چي د غوره، د قناعت وړ یا د غیر قناعت وړ نښو سره په نښه کيږي. دا په دری میاشتنی راپور کارت کي د زده کوونکي د ګریډونو په اړه د لیک سره یوځای خپريږي.

زمونږ د کاونټی پورټل ParentVUE له لاري، والدین 7/24 ساعته ګرید بوک یا د ګریډونو کتاب ته په ژوندی بڼه لاسرسی لري. دا کار د دی خبری ډاډ رامینځته کوي چي هغوي کولی شي زده کوونکی وڅاری او د بریا څخه یی ملاتړ وکړي.

## د IB پالیسیو سره اړیکي/ارتباط

په PWCS کي ارزونه تل د انفرادي زده کوونکي اړتیاوي په پام کي نیسي، په ځانګړي توګه د زده کوونکو IEP، 504 ته احترام کولو یا د ژبي پراختیا ته وده ورکولو سره. ځانګړي اسانتیاوي او ملاتړ زمونږ د شمولیت او ژبی په پالیسیو کي موندل کیدی شي.

زمونږ د اکاډمیکی بشپړتیا پالیسي په ټولو کچو کي په ارزونو کي د بشپړتیا ملاتړ کوي. زمونږ موخه دا ده چي زمونږ ارزوني د زده کوونکي د پرمختګ یا مهارتونو ریښتیني انعکاس وکړی.

## رول او مسؤلیتونه

### د پالیسی پلی کونه او نظارت

دا د IB کوردیناتور او د ښوونځی د مشر مسؤلیت دی چي د دی خبری ډاډ رامینځته کړی چي د هغوي په ودانی کي ټول اړخونه یا ځانګی د ارزوني پالیسی تعقیبوي یا عملی کوي. په دی باندی ممکن د ښوونځي په کچه د مسلکي پراختیا پروګرام له لاري تینګار وشي او د کورس په درسی نصاب کي منعکس شي.

### د پالیسی په اړه تازه معلومات او اداره کونه

په پالیسی یا مقرراتو کی بدلونونه د ولسوالی په کچه د مشرانو لخوا تر سره کيږي او وروسته بیاځلی کتل کيږي او د IB په رسمي پالیسی کي معلومات تازه کيږي.

Formatted: Left-to-right

## په ګډه سره کتنه او په اړه یی خبری اتری کول

د PWCS IB کوردیناتوران به په منظمه توګه پالیسۍ ګوری او پکی به په ګډه سره بدلون رامینځته کوي. کله چې نوې پالیسي خپریږي، دا به ژباړل کیږي او د عامو خلکو لخوا د ګټی اخیستنی لپاره به د IB ښوونځیو په ټولو ویب پاڼو کې پوسټ کیږي.

په وروستی ځل د کتل کیدو نیټه مئ 2025

Formatted: Left-to-right